# داوطلبۍ ته بلنه

# داخلي پرانیستې داوطلبي

**پروژه:** د **افغانستان بانک لپاره د 40 قلمه مصرفی توکو چمتو کول او تدارک.**

**داوطلبۍ ته د بلنې شمېره: DAB/1400/NCB/G62**

۱. د افغانستان بانک ریاست په پام کې لري څو د ۱۴۰۰ کال لپاره د ځانګړو شویو وجوهو یوه برخه د پورته یادې شوې پروژې لپاره د **DAB/1400/NCB/G62** داخلي پرانیستې داوطلبۍ د کړنلارې په کارولو سره ولګوي.

۲. د تدارکاتو آمریت د افغانستان بانک په استازولۍ ټولو په شرایطو برابرو داوطلبانو ته بلنه ورکوي څو د یادې داوطلبۍ په پروسه کې ګډون وکړي او د شرطنامې د شرایطو سره سم خپل سر بند آفرونه وسپاري.

۳. د دې قرارداد موده {**یوکال**} ده.

۴. دا داوطلبي د داخلي پرانیستې میتود پر بنسټ چې د افغانستان د تدارکاتو په قانون او کړنلاره کې ترې یادونه شوې ده، په لاره اچول کېږي او په شرطنامه کې په ګوته شویو په شرایطو برابر هېوادونو د ټولو داوطلبانو پر وړاندې پرانیستې ده.

۵. په شرایطو برابر ټول لیوال داوطلبان کولای شي په دري ژبه د افغانستان بانک د ویب پاڼې (www.dab.gov.af) څخه د داوطلبۍ اسناد راښکته کړي او د نه لاسرسي په صورت کې دې د (hezbullah.niazy@dab.gov.af) بربېښنالیک او یا هغې پتې څخه چې لاندې یې یادونه شوې ده، د داوطلبۍ سندونه په خپل فلش دسک کې ترلاسه کړي.

**۶. آفرونه باید لاندې پتې ته د سهار له {10:00} بجو مخکې 1400/08/23 وسپارل شي. د یادونې وړ ده چې له ټاکلې مودې وروسته رارسیدلي او الکترونیکي آفرونه د منلو وړ نه دي.**

۷. ټول آفرونه باید د آفر د تضمین د لاندیني مبلغ سره یوځای وسپارل شي.

آفر تضمین: بانکي تضمین

**۸. د آفر د تضمین مبلغ 63,834 درې شپیته زره اته سوه او څلور دیرش افغانۍ**

د آفر د تضمین: بانکي تضمین د آفر د اعتبار له مودې څخه ۲۸ ورځې وروسته اعتبار ولري. یعنې د آفر د سپارلو د نېټې 1400/08/23 څخه تر ۱۱۸ورځو پورې یا د تمدید شوې مودې تر پای پورې، په هغه صورت کې چې د تمدید شویو داوطلبانو لپاره د کړنلارې د ۱۵,۲ مادې مطابق وي، د اعتبار وړ پاتې شي.

یادښت: د آفر د تضمین (بانکي تضمین) باید په اصلي نسخه کې وسپارل شي. هر ډول فوټوکاپي او یا سکن شوې کاپي د اعتبار وړ نه ده.

۹. پر شرایط برابر داوطلب باید لاندې شرطونه پوره کړي:

۱. **د داوطلب لپاره د خدمتونو حد اقل كاري حجم:** تجربه او تخنيكي ظرفيت: داوطلب بايد هغه اسناد ولري چې د تجربې او تخنيكي ظرفيت د لاندې معيارونو پوره كولو ښكاروندوی وي. د تداركاتو د كړنلارې د ۵ شمېرې حكم او د تداركاتو د قانون ۸ مادې سره سم د يادو توكو د چارو لپاره د ورته كاري تجربې معيار اړين نه دی.

داوطلبان بايد د اسنادو په چمتو كولو سره ثابته كړي چی په تيرو 10 كلونو كی د ورته قرارداد لېترلږه (يو/دوه) ترسره كولو تجربه د لاندی ارزش څخه ښكاروندوی وي. د تداركاتو د كړنلارې د ۵ شمېرې حكم او د تداركاتو د قانون ۸ مادې سره سم د يادو توكو د چارو لپاره د ورته كاري تجربې معيار اړين نه دی.

د نغدي شتمنيو او يا اعتباري اسانتياوو او د داوطلب د نورو خالصو قراردادي ژمنو خالص مبلغ په لاندې ډول دی: د اعلان له ورځې تر آفر پرانيستنې پورې **ټوليز ارزښت (797,923 اوه سوه اوه نوي زره نهه سوه او درويشت افغانۍ)**

۱۰. آفر پرانيستنه د داوطلبانو او د هغوی د واک لرونكو استازو په شتون كې د آفر د تسليمۍ د وروستۍ نيټې په پای ته رسېدو سره په لاندې پته ترسره كيږي.

**د آفر د سپارلو پته:**

د تداركاتو لوی امريت، د افغانستان بانک، پښتونستان واټ، كابل، افغانستان

د اړيكو شميره: 202106692 (0) 93+

برېښناليک: ihsanullah.ihsan@dab.gov.af

ويب پاڼه: www.dab.gov.af

**نوټ: د داوطلبی د مخه ناسته: 1400/08/15 نيټه د سهار 10:00 بجی د تداركاتو لوی آمريت كی دايريږی.**